education above all
التعليم فوق الجميع

# خیز وهونکی باټ

| | |
|---|---|
| **درجه** | صفري: (له ۴ څخه تر ۵ کلونو پورې) |
| **اړینې سرچینې** | یو اندازه ټوکر (رخت) د سترګو پټولو لپاره |
| **د سرچینو لپاره بدیلې لارې** | هیڅ |
| **د پوښښ موضوع** | هندسه او اندازه ګیري |
| **په نخښه شوي مهارتونه** | نسبي موقعیتونه |
| **الهام اخیستنه** | هیڅ |
| **د چمتو کولو لپاره وخت** | هیڅ |
| **د لوبې لپاره وخت** | ۲۰ دقیقې |
| **تیرو درسونو ته اړتیا** | ابتدایي لارښوونې (له چپ څخه ښي طرف ته او مخکې او شاته) |
| **ملاتړ ته اړتیا** | په ټیټه کچه |
| **موخه** | د حد اقل غلطیو ترسره کولو سره په لوړو نمرو هدف ته رسیدل |
| **قوانین** | - لمړنی لوبغاړی (باټ) پداسې حال کې چې دده سترګې تړل شوي وي، باید ورکړل شوې لارښوونې په دقیق ډول تعقیب کړي او د هدف په لور حرکت وکړي.<br>- نور لوبغاړي باید د ورکړل شویو او یا تعقیب شویو سمو لارښوونو شمیر ثبت کړي او نمرې لکه څرنګ چې په لوبه کې تشریح شوي جمع کړي. |
| **مرحلې** | - دوهم لوبغاړی باید د لمړني لوبغاړي څخه ۵ قدمه لیرې چې هر ځای کې وغواړي کولی شي ودریږي<br>- د لمړني لوبغاړي (باټ) سترګې باید تړل شوي وي او دی باید دوهم لوبغاړی ونه ویني چې چیرته ولاړ دی.<br>- دریم لوبغاړی باید هڅه وکړي چې په ډیرو کمو غلطیو سره اول لوبغاړي (باټ) ته د بل لوبغاړي په لور لارښوونه وکړي.<br><u>نمونه ی لارښوونې</u><br>ښي یا چپ (کیڼ) لوري ته خیز واچوئ<br>د $x$ د تعداد په اندازه مخ پر وراندې حرکت وکړئ<br>د $x$ تعداد قدمونو په اندازه شاته حرکت وکړئ<br>- لومړی لوبغاړی د هرې لارښوونې په سمه توګه ترسره کولو لپاره یوه نمره ترلاسه کوي |


- د هرې سمې لاربشوونې سره دوهم لوبغاړی یوه نمره ترلاسه کوي.

دوهم لوبغاړی کولی شي په لاندې ډل نمرې ثبت کړي

| باټ | لاربشود |
|---|---|
| \|\|\|\| | \|\|\| |

- کله چې لومړی لوبغاړی (باټ) په بریالي توب سره هدف ته ورسیږي، تاسو له زده کوونکو څخه وغواړئ چې خپلې نمرې حساب کړي.

- لوبغاړي کولی شي په خپل نوبت سره د لومړي لوبغاړي (باټ) او یا د دوهم لوبغاړي (لاربشود) په توګه خپل رول ولوبوي.

| | |
|---|---|
| **انځورونه** |  |
| **په لوبه کې بدلونونه** | - تاسو کولی شئ چې دا لوبه د انفرادي ډول پر ځای په یوه ټیم کې ترسره کړئ.<br>- د یوه لوبغاړي پرځای کولی شئ چې یو توکی د هدف په حیث وټاکئ ترڅو لومړی لوبغاړی (باټ) ورته ځان ورسوي.<br>- د خوندي توکو (لکه د ټوکر څخه جوړ شوي د لوبو شیان، بالښت او داسې نورو) په کارولو سره د لارې په اوږدو کې باټ ته خندونه ځای پر ځای کړئ. |
| **غني کول** | - لوبغاړي کولی شي چې هغه ټوله لاره رسم کړي چې باټ یې باید ترسره کړي او ټوله لارښوونه په یو ځل باټ ته ورکړي. |
| **اسانتیا** | - لوبغاړي کولی شي د ورکړل شوو قدمونو او لارښوونو شیمر کم کړي یا لاره د لمړي لوبغاړي لپاره آسانه کړي<br>- تسهیل کوونکی کولی شي نمرې ثبت کړي او زده کوونکي کولی شي نمرې حساب کړي ترڅو دا جوته کړي چې څنګه یې لوبه ګټلې ده. |